**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۱** **نېټه: ۵ / ربیع الاول / ۱۴۴۵ هـ ق | برابره ده له: ۲۹/وږي/۱۴۰۲ هـ ش**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

و بعد: په ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵ هـ ق نېټه، چې ۱۵/زمري/۱۴۰۲ هـ ش سره برابره ده، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي شورا غونډه د محترم قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس صاحب په مشرۍ جوړه شوه چې د یادې غونډې شپاړسمه موضوع داسې وه: ((د ځینو محکمو پوښتنه داسې ده: ځیني خلک محکمو یا وثیقو ته مراجعه کوي تر څو د هغه دعوې د تعقیب لپاره وکیل وټاکي چې تراوسه محکمې ته نه ده رسېدلې ، اوس پوښتنه دا ده: په هغه مواردو کې چې دعوه په محکمه کې شتون و نه لري، آیا محکمې یا وثیقې کولای شي د یوه شخص لپاره وکالت خط جوړ کړي او که څنګه؟))

د سترې محکمې محترمې عالي شورا د ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵ هـ ق نېټې، چې ۱۵/زمري/۱۴۰۲ هـ ش سره برابره ده، د دویم تصویب د شپاړسمې پرېکړې پر بنسټ په دې اړه داسې هدایت وکړ:

((د وکالت خط جوړولو لپاره په محکمه کې د دعوې شتون شرط نه دی. بلکې د مراجعینو د غوښتنې پر مهال، محکمې او وثیقې (وثایق) کولای شي د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۵/۱/۲۵ هـ ق نېټې د (۷) ګڼه متحدالمآل سره سم مراجعینو ته وکالت خط جوړ کړي. البته د درغلۍ د لیدل کېدو په صورت کې دې اړونده محکمه د سترې محکمې عالي محترم مقام څخه د لارښوونې غوښتونکې شي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنی لیکلی هدایت د دې متحدالمآل په واسطه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته واستول شو تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

**ستره محکمه**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.